# د خواجه غريب نواز په

## دربار کښې د بادشاهانو حاضرۍ

17-January-2024



د يومِ غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اجتماع بيان

(شپږم رجب، 1445 هجري بمطابق 17 جنوري، 2024ء)

د یومِ غريب نواز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د اجتماع بيان

(شپږم رجب، 1445هجري بمطابق 17 جنوري، 2024ء (د چارشنبې او زيارت مينځينئ شپه)

# د خواجه غريب نواز په دربار کښې د بادشاهانو حاضرئ

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د خواجه حُضُور رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ مختصر تعارف
- ـــخواجه حُضُور رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د سلام جواب ورکړو
- ـــ مزارونو ته تلل سُنَّت دي
- ـــ د ړوند بينائي نصيب شوه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: مسلمان چې تر څو په ما باندې دُرُود لولي، فرښتې په هغه باندې رحمتونه رااليږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زيات. (1)

محبوبِ ربِّ اکرم! لاکھوں سلام تم پر
لاکھوں درود ہر دَم لاکھوں سلام تم پر (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات [يعني] د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. (3)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** ښه نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❁

1...ابن ماجه، کتاب اِقَامَةِ الصَّلَاة، بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ، صفحه:152، حديث:907-
2...وسائلِ فردوس، صفحه: 49-
3...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحه:65، حديث:1-

عِلمِ دِین به زده کووم ❁ په اَدب به کښینم ❁ نصیحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک نوم اوریدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اے خواجه! سوزم

عالِمِ باعَمَل، پیرِ کامِل، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسنت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: زما پیر بهائي او زما د والد صاحب شاګرد مولانا برکات احمد صاحب (رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه) بیان کړل، هغوئي فرمائیلي چې: ما په خپلو سترګو اولیدل چې یو غیر مسلمه وو، چې د هغه د سر نه واخله تر ښپو پورې غټې غټې دانې راختلې وې، **خُدائے** خبر چې څومره [دانې پرې راختلې] وې. هغه غیر مسلمه به ټیک د غرمې په وخت د خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه مزار شریف ته راتللو او د دربار شریف مخې ته به په ګرمو کاڼو ډېرې په ډېرې اَوونښتو او ورسره ورسره به یې دا وئیل: کھوَاجَہ اَگَن لَگی (اے خواجه! سوزم)- **درې ورځې پرله پسې هغه هم داسې کول، په دریمه ورځ ما اولیدل چې هغه بالکل ټیک شوے دے** (یعنې د هغه ټولې دانې ښې شوې دي)- (1)

*_*_*_*

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجۂ خواجگاں! | غریب نواز ' غریب نواز | قبلۂ عارفاں! | غریب نواز ' غریب نواز |
| مُرشِدِ ناقصاں! | غریب نواز ' غریب نواز | رہبرِ کاملاں! | غریب نواز ' غریب نواز |
| ہادیِ گمرہاں! | غریب نواز ' غریب نواز | مُصلِحِ عاصیاں! | غریب نواز ' غریب نواز |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، حصہ سوم، صفحہ:384-

## د خواجه حُضُور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شپږمې صدئ هجرئ ډير د اوچتې مرتبې شخصيت دے، هغوئي په 537 هجرئ کښې د سَجِستان په علاقه سَنجر کښې دنيا ته تشريف راوړلو، په دې نسبت سره هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته سنجري وئيلے شي. (1) د خواجه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاک نوم: حَسَن دے او ❁ مُعِينُ الدِّين ❁ غريب نواز ❁ سلطانُ الـهِند ❁ وارِثُ النَّبی ❁ عطائے رسول وغيره يـې مشهور لَقبونه دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونړه خواجه صاحب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نَجِيبُ الطَّرَفَين دے يعني د والِد او والدې دواړو طرفو نه سَيِّد زاده دے، (2) په 12 واسطو سره د هغوئي سلسلهٔ نسب د مسلمانانو څلورم خليفه مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِىَ اللهُ عَنْه ته رَسي. (3)

چراغِ انجمنِ اَوْلیا غریب نواز
گُلِ حدیقۂ حسنین، نورِ چشمِ علی

امینِ سَطْوَتِ خیبر کُشَا غریب نواز
فدائے سیرتِ خیرُ الوریٰ غریب نواز

د شعرونو مفهوم: اے خواجه غريب نوازه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه! تاسو د اوليائے کرامو د محفل شمع يئ، تاسو د خيبر فتح کوونکي مولائے کائنات، مولا علي رَضِىَ اللهُ عَنْه د بهادرئ امين يئ، تاسو د امامِ حَسَن او د اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُما د باغ گُل او د حضرت علي رَضِىَ اللهُ عَنْه د سترګو تور يئ او د مصطفٰے جانِ رَحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو مئين يئ.

مَاشَآءَ الله! خواجه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د عِلمِ دين سره ډير شوق لرلو، د هغوئي عمر 15 کاله وو، چې د هغوئي والِد محترم د دې دنيا نه سفر اوکړو، په وراثت کښې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يو باغ او يوه جرنده ميلاؤ شوه، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باغ خرڅ کړو،

1...اِقْتِبَاسُ الْاَنْوا، صفحه: 345۔
2...فيضانِ خواجه غريب نواز، صفحه: 3۔
3...اِقْتِبَاسُ الْاَنْوار، صفحه: 346۔

جرنده يـې هم خرڅه کړه او باقي چې کوم ساز او سامان وو، ټول يـې خرڅ کړو، د هغې قيمت يـې په فقيرانو، مسکينانو باندې صدقه کړو او د عِلمِ دين د لارې مسافر جوړ شو. ❁ ورومبے هغوئي سَمَرقَند ته لاړلو، هلته يـې قرآنِ کريم حِفظ کړو او د مولانا شَرفُ الدِّين رَحمَةُ اللهِ عَلَيه نه يـې عِلمِ دِين حاصل کړو، خواجه صاحب رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به چې څومره عِلم حاصلولو، دومره به يـې د عِلم تَنده نوره هم زياتيدله ❁ هم دغسې په سَمَرقَند کښې د عِلم حاصلولو نه پس هغوئي بُخارا ته تشريف يوړلو او هلته يـې د مشهور عالِمِ دِين شيخ حُسَّامُ الدِّين رَحمَةُ اللهِ عَلَيه شاګردي اختيار کړله، کم او زيات د 5 کاله په مختصره موده کښې هغوئي د هغه وخت رائج علمونه زده کړل او فراغت يـې حاصل کړو [1] ❁ د ظاهري علومو د زده کولو نه پس هغوئي د باطني علومو طرف ته متوجه شو او د دې د پاره هغوئي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د ايران علاقې **هاروَن** ته لاړلو، هلته يـې د خواجه عُثمان هَروَني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په لاس بيعت اوکړو او تقريباً تر 20 کالو پورې موده يـې د پير صاحب خدمت کښې تيره کړله او د معرفت منزلونه يـې طے کول. [2]

| | |
|---|---|
| خواجۂ خواجگاں مُعِیْنُ الدِّیْن | فخرِ کون و مکاں مُعِیْنُ الدِّیْن |
| مُرشِدِ رہنمائے اہلِ صَفا | ہادیٔ اِنس و جاں مُعِیْنُ الدِّیْن [3] |

د 545 هجرئ نه واخله تر د 622 هجرئ پورې د 77 کالو اکثره برخه خواجه غريب نواز رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په سفر کښې تيره کړله ❁ مدينے مُنَوَّرې ❁ مَکے مُکرمې ❁ خُراسان ❁ سَمَرقَند ❁ بُخَارا ❁ عِراق ❁ هاروَن ❁ بغداد ❁ کِرمان ❁ هَمدان ❁ تَبرَيز ❁ اَستَر آباد ❁ خَرقان ❁ هِرات ❁ غَزني ❁ رَے ❁ بَدخشان ❁ دِمَشق

---

1...اللہ کے خاص بندے عبدہ، صفحہ: 508، 509 ملخصاً۔
2...مرآۃ الاسرار، صفحہ: 594 خلاصۃً۔
3...معین الارواح، صفحہ: 336۔

❁جِيلان ❁ اصفَهان ❁ مُلتَان ❁ لاهور ❁ دهلي او اجمير وغيره مختلفو ښارونو ته يـې تشريف يوړو، هلته د موجودو بزرګانِ دين، اوليائـے کرامو په خدمت کښې حاضر شو، چرته يـې د عِلم او معرفت فيضان تقسيم کړو، د چا نه يـې ظاهري او باطني عِلم زده کړو، (1) تقريباً تر 5 مياشتو پورې هغوئي رحمۃ اللہ علیه په بغداد شريف کښې د پيرانِ پير، پير دستګير شيخ عبد القادر جيلاني يعنې حُضُور غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه په خِدمت کښې هم حاضر اوسيدلو. (2) خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیه د دين ډير لوئي خدمت کوونکـے وو، **هغوئي کمو او زياتو 90 لاکهه کافِرانو ته کلمه اوويئيله او مسلمانان يـې کړل**، 96 کاله په دُنيا کښې تشريف فرما وو، په 6 رَجَب، 627 هجرئ، د کُل په مبارکه ورځ، د سحر د نـمونځ په وخت مريدانو انتظار کولو چې پير او مُرشِد به تشريف راوړي او د سحر د نـمونځ جَمع به راکوي خو حُضُور خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیه نه راتللو او نه راغلو، د ښه ډير وخت تيريدو نه پس چې خلقو د حُجرې دروازه برسيره کړه او اوئې کتل نو د غمونو سمندر راغـے، ځکه چې حُضُور خواجهٔ خواجګان، سلطانُ الـهِند، خواجه غريب نواز، مُعِينُ الدِّين حَسَن چشتي، سنجري، اجميري رحمۃ اللہ علیه وِصَال فرمائيلے وو، ليدونکو دا د ايمان نه ډکه نظاره په سترګو اوليدله چې د خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیه په نوراني تندي باندې ليکلے شوي وو: حَبِيْبُ اللهِ مَاتَ فِيْ حُبِّ اللهِ يعنې د **الله** د محبوب بنده، د **الله** په محبت کښې وِصَال اوشو. (3) د حُضُور خواجه صاحِب رحمۃ اللہ علیه مزار مبارک د هندوستان په مشهور ښار اجمير صوبه راجِستهان شمالي هندوستان کښې دے. (4)

---

[1]...ہند کے راجہ، صفحہ:70.تغیر-
[2]...مرآۃالاسرار، صفحہ:594-
[3]...ہند کے راجہ، صفحہ:78،79.تغیر قلیل-
[4]...مرآۃالاسرار، صفحہ:610.تغیر قلیل-

خواجۂ ہند وہ دربار ہے اعلیٰ تیرا
کبھی محروم نہیں مانگنے والا تیرا
پھر مجھے اپنا دَرِ پاک دِکھادو!
آنکھیں پُر نور ہوں پھر دیکھ کر جلوہ تیرا(1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خواجهٔ هند دربارِ عالي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه خوږ خواجه غریب نواز رحمۃ اللہ علیہ سلطانُ الهِند دے، د هغوئي د دنيا نه د پردې فرمائيلو صدئ تيرې شوې دي خو اوس هم د هغوئي په دربارِ عالي کښې د خلقو ګڼه ګوڼه وي. که مالدار وي او که غريب، که بادشاه وي او که فقير، د هغوئي مزار ته په شوق سره حاضري کوي او د زړهٔ مرادونه حاصلوي. د خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ مزار مبارک هغه اوچته بارګاه ده، چرته چې د بادشاهانو سرونه هم ټيټيږي.

[چې درنې درنې شَملې ورته ټيټيږي په شليدلو ګريوانونو کښې څه چل شته]

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجۂ خواجگاں! | غریب نواز ' غریب نواز | قبلۂ عارِفاں! | غریب نواز ' غریب نواز |
| مُرشِدِ ناقِصاں! | غریب نواز ' غریب نواز | رہبرِ کامِلاں! | غریب نواز ' غریب نواز |
| ہادیِ گمرہاں! | غریب نواز ' غریب نواز | مُصلِحِ عاصیاں! | غریب نواز ' غریب نواز |

## د خواجه په دربار کښې د بادشاهانو حاضرياني

❁ **په سِيَرُ الاَقطاب کښې دي:** يوه ورځ خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ د شيخ اَوحَد کِرماني رحمۃ اللہ علیہ او شيخ شِهابُ الدِّين سُهروردي رحمۃ اللہ علیہ سره ناست وو چې يو هلک غشے او لينده اخستې په هغه ځائے تيريدلو ، هغه يـې چې اوليدو نو حضور غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل: **دا ماشوم به د دهلي بادشاه جوړيږي**، آخر هم هغه اوشو، په لږه موده کښې

---

[1]...ذوقِ نعت، صفحہ:27،28ملتقطاً-

هغه هلک د دِهلي بادشاه جوړ شو او د سلطان شَمسُ الدِّين اَلتَمِش په نوم مشهور شو. (1)

تمہارے منہ سے جو نکلی وہ بات ہو کے رہی | کہا جو دِن کو کہ شب ہے تو رات ہو کے رہی

سلطان شَمسُ الدِّين اَلتَمِش به د خواجه صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ سره ډير عقيدت لرلو، هغوئي به د خواجه صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې حاضري هُم ورکوله او د هغوئي نه يې باقاعده د مَعرفت تعليم هُم حاصل کړو. (2)

جھولیاں بھرتے ہو منگتوں کی، مجھے بھی ہو عطا | حصۂ جود و سخا، خواجہ پیا! خواجہ پیا!
نَے میں سائِل راج کا، نَے تخت کا، نَے تاج کا | میں فقط منگتا ترا، خواجہ پیا! خواجہ پیا! (3)

✿ د حُضُور خواجه غريب نواز رحمۃُ اللہِ علیہ د وصال نه پس واقعه ده چې سلطان محمود خِلجي ته يو خط ميلاؤ شو، په هغې کښې ليکلي وو: اجمير د خواجه غريب نواز رحمۃُ اللہِ علیہ د آرام ځائے دے، په هندوستان کښې اسلام هم د دې ځائے نه خور شوے وو خو اوس دلته د کُفر حکومت دے او دلته د شَعَائِرِ اسلام (مثلًا د قرآنِ مجيد او جُماتونو وغيره) بے حرمتي کيږي. سلطان محمود خلجي چې خط اولوستو نو غمژن شو او د خواجه صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ په بارګاه کښې يې د مدد خواست اوکړو، بيا د فوځ سره اجمير ته لاړلو او کافِرانو ته يې شکست ورکړو، بيا د خواجه رحمۃُ اللہِ علیہ بارګاه ته حاضر شو، د خواجه صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ شکريه يې ادا کړه، د دربار شريف سره نزدې يې يو جومات هم جوړ کړو او د دربار د خادمانو يې ډير خِدمت هم اوکړو. (4)

سرکارِ مدینہ کے صدقے میں عطا کر دو! | دولت بھی تمہاری ہے، منگتا بھی تمہارا ہے

---

1...سیر الاقطاب، صفحہ:134-
2...معین الارواح، صفحہ:315-
3...وسائل بخشش، صفحہ:537-
4...معین الارواح، صفحہ:315 خلاصۃً-

❁ سلطان نور الدِّین جهانګیر په 1022 هجرۍ کښې ښېپ ابله ښپې اجمیر شریف ته حاضر شو او د خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیہ دربار عالي وقار کښې یې حاضري ورکړه. [1]

❁ شاه جهان 21 کاله په هندوستان باندې حکومت اوکړو او په دې 21 کالو کښې پینځه ځل د خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیہ دربار ته حاضر شو او څو څو ورځې یې دلته قیام اوکړو. [2]

❁ د مُغَلو د سلطنت آخري بادشاه بهادر شاه ظفر به د خواجه غریب نواز رحمۃ اللہ علیہ په شان کښې قصیدې لیکلې او د هغوئي په حُضُور کښې به یې د مدد خواست کولو، د بهادر شاه ظفر د لیکلے شوي منقبت یو څو شعرونه واورۍ! [3]

آستاں بوسی کا مجھ کو شوق تو ہے اس قدر | اُڑ کے پہنچوں میں ابھی، میرے اگر ہوں بال وپَر
پَر کروں کیا، میں ہوں بے طاقتِ قدم سے سر بسر | ہے تمہاری ہی فقط چشمِ عِنَایت پر نظر

یا مُعِیْنُ الدِّیْن چشتی! دستگیری لازِم اَست

**مفهوم:** زه ستاسو په دربار کښې د حاضرۍ ډیر شوق لرم، که زما وَزَرې وے نو زه به په آلوتلو در رسیدلے وے خو څه اوکړم چې ډیر کمزورے یم، ستاسو عنایت ته ګورم، اے مُعِینُ الدِّین! زما دستګیري اوکړۍ!

طواف کرتا ہے تمہارے آستاں کا آسماں | خواجۂ ہر دو جہاں ہو، شاہِ شاہانِ جہاں
کعبۂ اَہلِ صَفا ہو، قبلہ گاہِ مُقْبِلاں | آپ کا دستِ حِمَایَت، چھوڑ کر جاؤں کہاں؟

یا مُعِیْنُ الدِّیْن چشتی! دستگیری لازِم اَست

**مفهوم:** آسمان ستاسو د دَر طواف کوي یعنې ستاسو دربارِ عالي ډیر اوچت دے،

---

1... معین الارواح، صفحه:320-
2... معین الارواح، صفحه:321 تغیر قلیل-
3... معین الارواح، صفحه:335 تغیر قلیل-

تاسو په دواړو جهانونو کښې خواجه او د بادشاهانو بادشاه يئ، د اوليائے کرامو قبله او کعبه يئ، ستاسو حمايت او عنايت چې پريږدم نو زه چرته لاړ شم.--! اے مُعِينُ الدِّين! زما مدد اوفرمايئ!

❁ د دولتِ آصفيه وزير اعظم راجه سرکِشَن پرشاد په 1924 عيسوئ کښې د خواجه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دربار ته حاضر شو او په خپلو لاسو يـې د طاوس د بڼو نه جوړ شوي د غټ بَبوزي وهلو خدمت اوکړو. راجه پرشاد شاعر هم وو، کله چې هغه ته د خواجه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دربار ته د حاضرئ موقع ميلاو شوه نو هغه د خواجه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په شان کښې شعرونه اووئيل، ليکي: [1]

| | |
|---|---|
| جھکتے ہیں شاہوں کے سَر خواجہ کی وہ سرکار ہے | ہیں ملک دربان وہ شاہِ چِشْت کا دربار ہے |

راجه پرشاد ته په دربار شريف کښې د طاوس د بڼو نه د جوړ کړے شوي غټ ببوزي وهلو موقع ميلاو شوه، د دې باره کښې ليکي: [2]

| | |
|---|---|
| مَورچھل جھلنے کی خدمت مل گئی | شاد کو دنیا کی عزت مل گئی |
| بارگاہِ خواجۂ اجمیر سے | لو کلیدِ گنجِ قسمت مل گئی |

**د شعرونو مفهوم:** يعنې شاد ته چې د ببوزي وهلو د خدمت موقع ميلاؤ شوه نو دا ورته په اصل کښې عزت ميلاؤ شو، او د خواجه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دَر نه ورته د قسمت د خزانې چابي ميلاؤ شوه.

❁ دې نه علاوه ❁ شهزاده دَارَا شُکُوه ❁ سلطان غِيَاثُ الدِّين ❁ سلطان مانډو ❁ شهزاده شُجاع ❁ شهزاده فَرُّخ او نور ډير د وخت بادشاهان ❁ د هندوستان سلطانان او حکمرانان په خپل دورِ حکومت کښې د خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دربارِ عالي شان ته حاضر شول او دا اقرار يـې اوکړو چې د هندوستان په تخت که

---

[1]... معین الارواح، صفحہ: 326-

[2]... معین الارواح، صفحہ: 326-

هر څوک هُم کښېني خو په حقیقت کښې د هندوستان سلطان هُم خواجه غریب نواز رحمۃُ اللہِ علیہ دے. (1)

وہ ہند کے راجہ ہیں، میں اُن کا بھکاری ہوں | خالی میں چلا جاؤں کب اُن کو گوارا ہے

*-*-*-*

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجۂ خواجگاں! | غریب نواز، غریب نواز | قبلۂ عارفاں! | غریب نواز، غریب نواز |
| مُرشِدِ ناقِصاں! | غریب نواز، غریب نواز | رہبرِ کاملاں! | غریب نواز، غریب نواز |
| ہادیِ گمرہاں! | غریب نواز، غریب نواز | مُصلِحِ عاصیاں! | غریب نواز، غریب نواز |
| حامیِ بے بَساں! | غریب نواز، غریب نواز | ہیں کسِ بے کساں! | غریب نواز، غریب نواز |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## خواجه حُضُور د سلام جواب ورکړو

❀ حضرت اَورَنګ زیب عالمګیر رحمۃُ اللہِ علیہ کوم چې یو مغل بادشاه وو، هغوئي د یولسمې صدئ هجرئ مُجَدِّد دے، (2) په خپل دورِ حکومت کښې څلور ځله د خواجه صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ دربار ته حاضر شوے دے. (3) یو ځل بادشاه اورنګ زیب عالمګیر رحمۃُ اللہِ علیہ د خواجه غریب نواز رحمۃُ اللہِ علیہ مزار ته حاضر شو او سلام یې عرض کړو، د خواجه حُضُور رحمۃُ اللہِ علیہ له طرفه هیڅ جواب میلاو نه شو، بادشاه اورنګ زیب رحمۃُ اللہِ علیہ بیا سلام وړاندې کړو، بیا هیڅ جواب رانغلو، کله چې بادشاه په دریم ځل سلام اوکړو نو د مزارِ پاک نه جواب راغلو: وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ یَا حُجَّةَ الْاِسْلَام. د خواجه غریب

---

1... معین الارواح، صفحہ:328 بتغیر قلیل۔
2... مجددینِ اسلام نمبر، صفحہ:333۔
3... معین الارواح، صفحہ:324۔

نواز رحمۃ اللہ علیہ له طرفه چې يې د سلام جواب واوريدو نو بادشاه اورنګ زيب رحمۃ اللہ علیہ ډير خوشحاله شو، په هغوئي باندې وَجد راغلے او تر ډير وخته پورې په مزار کښې حاضر وو، په دغه وخت هغوئي له خوب ورغلو او اودو شو، د سر سترګې يې چې پټې شوې نو خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ پرې نور کرم اوفرمائيلو او په خوب کښې يې تشريف راوړلو. بادشاه اورنګ زيب رحمۃ اللہ علیہ عرض اوکړو: خواجه حُضُور! ما دوه ځله سلام وړاندې کړو خو تاسو هيڅ جواب رانکړو، په دريم ځل مو جواب راکړو، په دې کښې څه حِکمت دے؟ خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل: **زه د کعبې شريفې په خوا کښې په سجده کښې ووم، ځکه مې دوه ځله جواب درنکړو.** [(1)]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** څومره ښکلے شان دے زمونږه د خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ .--!! يقيناً اوليائے کرام په خپلو مزارونو کښې ژوندي دي، مزار ته حاضريدونکي ويني، د هغوئي آواز اوري، هغوئي پيژني او د **الله** پاک په عطا سره د هغوئي ارمانونه هم پوره کوي. ❁ **په حديثِ پاک کښې دي**، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم ارشاد فرمائيلے دے: څوک چې هم د خپل داسې مسلمان ورور د قبر په خوا تيريږي کوم يې چې په دُنيا کښې پيژندو او سلام اوکړي نو مړے هم هغه پيژني او د سلام جواب ورکوي. [(2)] ❁ آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د غزوهٔ اُحد نه په واپسئ باندې د حضرت مُصعَب بن عُمَير او د نورو شهيدانو مزارونو ته اودريدلو او ارشاد يې اوفرمائيلو: زه ګواهي ورکووم چې تاسو د **الله** پاک په نز ژوندي يئ. (بيا يې اوفرمائيل: اے خلقو!) د دوئي زيارت کوئ او دوئي ته سلام کوئ! په هغه ذات قسم دے د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے! **تر قيامته پورې چې څوک هم دوئي**

---

1...ہند کے مرشدِ اعظم، صفحہ: 134، 135-

2...الاستذکار، کتاب الطهارة، باب جامع الوضوء، جلد: 1، صفحہ: 226، تحت الحديث: 29-

ته سلام کوي دوئي به د هغه د سلام جواب ورکوي. [1]

## تاسو په بخښلے شوو کښې يئ.--!!

حضرت بابا فريد گنج شکر رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه چې د هغوئي مزار شريف په پاکپتن کښې دے، هغوئي هم ډېر لوئي ولئ کامِل دے، فرمائي: يو ځل زه اجمير شريف ته حاضر شوم او د حضرت خواجه مُعِينُ الدِّين چشتي يعني د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د روضې مبارکې سره ايسار شوم، دا د عَرَفې شپه وه، ما د مزار په خوا کښې (د قبلې په لور مخ کړو او) نـمونځ مې ادا کړو، بيا هم هلته کښيناستم او په تلاوت کښې مشغول شوم. دلته مې په ناسته 15 سيپارې تلاوت کړې وې، د **سُورۀ کَهف** يا **سُورۀ مريَم** تلاوت مې کولو چې زما نه په لوستلو کښې غلطي اوشوه او يو حرف رانه پاتې شو. ما ته د دې غلطئ اِحساس نه وو شوے، ما چې وړاندې تلاوت شروع کړو نو د مزار مبارک نه آواز راغـے: **دا حرف دې پرېښودو، بيا يـې اولوله!** ما د هغه ځائے نه بيا اولوستو، بيا آواز راغـے: **ښۀ تلاوت کوې، خَلفُ الرَّشِيد (يعني ښه ځويه) هم داسې کوه.** بابا فريد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: د دې نه پس ما تلاوت کولو، کله چې ما تلاوت مکمل کړو نو ما په ژړا ژړا دُعاگانې کولې، زما سره دا ويره وه چې آه! پته نه لګي چې زه به په بخښلے شوو کښې يم او که نه، د دې ويرې په سبب ما ژړل چې ناڅاپه د مزار شريف نه آواز راغلے: **مولانا! خوک چې داسې نـمونځ کوي، هغه په بخښلے شوو کښې دے.** [2]

## د شپې د نـمونځ فضيلتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې واقعې نه معلومه شوه چې ✿ مزارونو له تلل

---

1... معجم اوسط، جلد:3، صفحه:7، حديث:3700-

2... ہند کے مرشد اعظم، صفحہ:133-

❁ هلته د **اللّٰه** پاک عبادت کول ❁ تلاوت کول وغيره د نيکانو خلقو طريقه ده. ځکه مونږ له هم پکار دي چې وخت په وخت مزارونو ته د تللو عادت جوړ کړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به رانصيب کيږي. نور د دې واقعې نه د شپې د عبادت فضيلت هم معلوم شو چې بابا فريد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د شپې نـمونځ ادا کړو، د قرآنِ پاک په تلاوت کښې مشغول وو، نو په دې باندې خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د مزار مبارک نه آواز ورکړو او اوئې فرمائيل: **چې کوم بنده دا نـمونځ کوي، هغه په بخښلے شوو کښې دے.** سُبۡحٰنَ اللّٰه!

ياد ساتئ! د شپې د نـمونځ دا فضيلت خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د خپل طرف نه دے بيان کړے بلکې په حديثونو مبارکو کښې داسې زيري ورکړے شوي دي. ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: **د شپې قيام په ځان باندې لازم کړئ** ځکه چې دا ستاسو نه د ښخوانو صَالِحانو (نيکانو خلقو) طريقه او ستاسو د **رَبّ** د نزدې والي ذريعه ده او د ګناهونو د ورانولو او د ګناهونو نه د بچ کولو سبب دے. [1] ❁ **په يو حديثِ پاک کښې دي:** اے خلقو! سلام عام کړئ او په خلقو طعام اوخورروئ او د خپلوانو سره نيک سلوک کوئ او **د شپې نـمونځ کوئ** کله چې خلق اوده وي، د سلامتيا سره به جنّت ته داخل شئ. [2] ❁**په يو بَل حديثِ پاک کښې دي:** بے شکه په جنّت کښې څه داسې محلونه دي په کومو کښې چې هُغاړه ديغاړه [يعنې د بهر نه دننه او دننه نه بهر] ښکاري، **اللّٰه** پاک هغه محلونه د هُغه خلقو د پاره تيار کړي دي کوم چې په محتاجو باندې ډوډئ خوري، سلام عام کوي او **د شپې چې کله خلق اُوده وي نو نـمونځ کوي.** [3]

---

[1]... ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحہ:811، حدیث:3549-

[2]... ابن حبان، کتاب البر والاحسان، باب افشاء السلام و ابعام الطعام، صفحہ:252، حدیث:508-

[3]... ابن حبان، کتاب البر والاحسان، باب افشاء السلام و ابعام الطعام، صفحہ:252، حدیث:509-

عِبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دل
رجب کا واسِطہ دیتا ہوں، فرما دے کرم مولیٰ[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مزارونو له تلل سعادت مندي ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې د اولیائے کرامو مزارونو ته حاضري کوو، د اولیائے کرامو مزارونو له تلل سعادتمندي ده. اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د مسلمانانو د قبرونو زِيَارت سنّت او د اولياء او شهيدانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د مزاراتو حاضري ډير لوئي سَعَادت دے او هغوئي ته ايصالِ ثواب کول ښه او د ثواب کار دے.[2]

پخپله زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر کال د اُحُد د شهيدانو مزارونو له تشريف وړلو،[3] دغه شان د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بقيع پاک ته تلل خو عام معمول وو.[4] اوس پخپله غور اوکړئ! د اُحُد شهيدان څوک دي؟ صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم دي، په هغه دور کښې په بقيع پاک کښې چا آرام فرمائيلو؟ هم صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم وو او ټول صحابه صرف وَلِيُّ الله نهٔ بلکې د اُمَّت د لوئي نه لوئي وَلِيُّ الله سرداران دي. او زمونږه آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي مزاراتو ته تشريف وړلو. خو ياد ساتئ چې زمونږه مزاراتو ته حاضرئ کښې او د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تشريف ور وړلو کښې

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:98-
2...فتاوی رضویہ، جلد:9، صفحہ:532 بتغیر-
3...تفسیر طبری، پارہ:13، سورۂ اَلرَّعد، زیر آیت:24، جلد:7، صفحہ:377، حدیث:20344-
4...مسلم، کتاب الجنائز، باب مایقال عند دخول القبور...الخ، صفحہ:348، حدیث:974-

يو فرق دے. مونږه مزارونو ته حاضريږو بزرګانو نه د فيض [يعنې برکتونه] حاصلولو د پاره خو زمونږه خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مزارونو ته تشريف وړلو، هغوئي ته د فيض ورکولو د پاره.

## د فرښتو يو سُنَّت

دغه شان د اوليائے کرامو مزارونو له تلل د فرښتو هم سُنَّت دي. آو جي! په حديثِ پاک کښې دي: د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُّ المُرتضٰى، شيرِ خُدا رضي الله عنه فرمائي: رسولِ ذيشان، مکّي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے علي! قرآن زده کړه! نورو ته يې اوښايه! تا ته به په هر حَرف باندې 10 نيکئ ميلاويږي او کله چې وفات شې نو تا ته به د شهادت مرتبه نصيب کيږي او اِنْ مِتَّ حَجَّتِ الْمَلَائِكَةُ اِلٰى قَبْرِكَ كَمَا يَحُجُّ النَّاسُ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْق کله چې تهٔ وفات شې نو فرښتې به ستا قبر له هُم داسې زيارت له راځي، لکه څنګه چې خلق بيت العتيق (يعنې کعبې شريفې) ته د زيارت د پاره ځي. [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! څومره چې هم اوليائے کرام دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ټول قرآنِ کريم لوستونکي، نورو ته د قرآن او سُنَّت تعليم ورکوونکي دي، چې د اهلِ قرآن (يعنې د قرآنِ کريم زده کوونکو او ښودونکو نيکانو خلقو) مزارونو ته فرښتې هم حاضريږي نو مونږه ګنهګاران ولې حاضر نه شو، ولې د اوليائے کرامو فيضان حاصل نکړو...؟؟

## مزارونو له د تللو برکتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د اوليائے کرامو د مزارونو ډير برکتونه دي ❁ دا

[1]...جمع الجوامع، جلد:9، صفحه:159، حديث:27914-

هغه ځایونه دي، چرته چې د **الله** پاک رحمت هر وخت راوریږي ❁ د اولیائے کرامو مزارونو ته د حاضرئ په برکت سره ایمان مضبوطیږي ❁ د دې خلقو، عزت، شان ته په کتلو سره په زړهٔ کښې د نیکو کارونو اهمیت زیاتیږي ❁ دلته د **الله** پاک کرم په ښکاره سترګو لیدلے کیږي ❁ په مزارونو باندې د ګنې ګوڼې لیدلو سره د **الله** پاک په وعدو باندې ایمان نور هم مضبوط شي.

پیر مهر علي شاه صاحب رَحمَۃُ اللہِ عَلَیه چې د اوچتې مرتبې عالِمِ دِین، سید زاده او ډیر لوئي ولئ کامِل دے، هغوئي به هر کال د بابا فرید رَحمَۃُ اللہِ عَلَیه مزار شریف ته حاضري کوله، یو ځل هغوئي پاکپتن ته تشریف یوړلو نو چا بدعقیده کس ترینه پوښتنه اوکړه: تاسو خو عالِمِ دِین یئ، تاسو هم مزارونو له ځئ؟ پیر مهر علي شاه صاحب رَحمَۃُ اللہِ عَلَیه اوفرمائیل: زه خو دلته د قرآن د آیت تفسیر په سترګو لیدلو د پاره راځم. هغه بدعقیده کس په حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه: د کوم آیت تفسیر؟ اوئې فرمائیل: د **الله** پاک فرمان مبارک دے:

فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ (پارہ:2، اَلْبَقَرَہ:152)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو ما یاد کړئ، زه به تاسو یاد کړم.

بابا فرید رَحمَۃُ اللہِ عَلَیه هغه هستي ده، چا چې ټول ژوند د **الله** پاک په ذِکر کښې تیر کړے وو، زه اوس د دې لیدلو د پاره راځم چې آیا واقعي اوس خلق هغوئي یادوي، **هغه به د الله پاک ذِکر کولو، اوس مخلوق فرید فرید کوي.** [1]

سُبْحٰنَ الله! مزارونو ته تللو سره مونږ ته دا ترغیب میلاویږي، [په زړهٔ کښې] دننه د نیکو جذبې راپیدا کیږي چې اوګوره! دا د **الله** پاک نیکان بندګان...!! دوئي ټول عمر د **الله** پاک په فرمانبردارئ کښې تیر کړے وو، په آخرت کښې چې به دوئي ته کوم اَجر او ثواب میلاویږي، هغه خو به میلاویږي، **الله** پاک په دې دُنیا کښې هم په دوئي باندې کرم اوفرمائیلو او د دوئي

---

[1]...مہرِ منیر، صفحہ: 430،431 خلاصۃً۔

په مزارونو باندې یـې رَش جوړ کړو، دوئي خو ېخپله د دُنیا نه تلې دي خو دوئي سره د مینه لرونـکو د ایصال ثواب په ذریعه د دوئي د نیکو میتړ اوس هم روان دے. دا نیکې جذبې مونږه هم د نیکئ د پاره راپاروي او په نیک جوړیدو کښې مدد راکوي.

❁ دغه شان د اولیائے کرامو په برکتونو کښې یو برکت دا هم دے چې دلته دُعاګانې زر قبلیږي، یقیناً **اللّٰه** پاک په هر ځائے کښې دعا قبلوي، که مونږ د خپل کور په کوټ کښې کښینو او دعا کوو، **اللّٰه** پاک هلته هم زمونږه دعا قبلوي خو د اولیائے کرامو په خوا کښې، د خپلو دې بندګانو په وسیله باندې یـې زر قبلوي (یعنې زمونږه د ګنهګارانو مُرادونه پوره کوي).

## ړوند ته بینائي نصیب شوه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا واقعې چې حقیقت دے، که یقین پوخ وي نو د اولیائے کرامو د مزارونو نه فیضان [یعنې برکتونه] حاصلیږي. وائي چې: یو ځل اَورنګ زَیب عالمګیر رحمۃ اللّٰہ علیہ د سلطان الـهِند خواجه غریب نواز رحمۃ اللّٰہ علیہ مزار ته حاضر شو. په دالان کښې یو ړوند فقیر ناست وو او آواز یـې کولو: اے خواجه غریب نوازه! سترګې راکړئ. هغوئي د هغه فقیر نه پوښتنه اوکړه: بابا! د سترګو غوښتلو مو څومره موده اوشوه؟ اوئې وئیل: کلونه تیر شول خو مُراد مې نه پوره کیږي. اوئې فرمائیل: زه مزار شریف ته حاضري کووم او لږ ساعت پس واپس راځم که سترګې دې ټیک شوې نو فَبِهَا (یعنې ډیر ښه) ګنې قتل به دې کړم. بادشاه دا اووئیل او په فقیر باندې یـې څوکئ اولګوله او ېخپله د حاضرئ د پاره دننه لاړلو. هلته په فقیر باندې ویره راغله او هغه په ژړا ژړا فریاد شروع کړو: اے خواجه! مخکښې خو صرف د سترګو مسئله وه اوس خو مې د سر خطره شوه، که تاسو کرم اونه فرمائیلو نو مړ به مې کړي. **چې کله بادشاه د حاضرئ کولو نه پس راواپس شو نو د هغه سترګې ټیک شوې وې.** بادشاه مُسکے شو او اوئې

فرمائيل: تا تر اوسه پورې په نۀ زړه او په بې توجُّهئ سره سوال کولو او اوس دې د مرګ له ويرې د زړۀ نه سوال اوکړو نو ستا مُراد پوره شو. (1)

*-*-*-*

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجۂ خواجگاں! | غریب نواز ٔغریب نواز | قبلۂ عارفاں! | غریب نواز ٔغریب نواز |
| مُرشِدِ ناقِصاں! | غریب نواز ٔغریب نواز | رہبرِ کامِلاں! | غریب نواز ٔغریب نواز |
| حامیِ بےبَساں! | غریب نواز ٔغریب نواز | ہیں کسِ بےکساں! | غریب نواز ٔغریب نواز |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اوس خو ډاکټران هم بينا کول کوي!

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! کيدے شي چې د چا په ذهن کښې دا سوال راشي چې غوښتل خو د **الله** پاک نه پکار دي او هم هغه ورکووونکے دے، دا څنګه کيدے شي چې د خواجه صاحب رحمۃ اللہ علیہ نه ځوک سترګې اوغواړي او هغه يې ورعطا هم کړي! جواباً عرض دے چې حقيقتاً خو **الله** پاک ورکوونکے دے، په مخلوق کښې چې ځوک هم څه ورکوي هغه ئې هم د **الله** پاک نه اخلي او بل له ئې ورکوي. د **الله** پاک د عطا نه بغير ځوک يوه ذرّه هم نشي ورکولے. د **الله** پاک په عطا سره هر څه کيدے شي. که چا د خواجه صاحب نه سترګې اوغوښتلې او هغوئي د **الله** پاک په عطا سره ورعطا کړې نو آخر دا داسې کومه خبره ده چې ځوک پرې نه پوهيږي؟ دا مسئله خو في زمانه فنِّ طِبّ هم حل کړې ده! هر چا ته پته ده چې نن سبا ډاکټران د آپريشن په ذريعه د مړي سترګې ړندو ته لګوي او ړوند ورسره بينا کيږي. دغه شان خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ هم يو

---

1... خوفناک جادو گر، صفحہ: 19،20-

ړوند ته د **اللّٰه** پاک په عطا کړے شوي روحاني طاقت سره د نابينايئ د مرض نه شِفا عطا کړه او بينا يــې کړو. بهر حال که څوک دا عقيده لري چې **اللّٰه** پاک چا نبي يا ولي ته د مرض نه د شِفا ورکولو يا د څه عطا کولو اِختيار هډو ورکړے نه دے نو داسې کَس د قرآن حُڪم دروغ ګڼي. په دريمه سيپاره سورۂ اٰلِ عمران آيت نمبر 49 کښې د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام قول نقل کړے شوے دے:

وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او زه پيدائشي ړندو او د برګي مريضانو ته شِفا ورکووم او زه د **اللّٰه** په حُڪم مړي ژوندي کووم.

تاسو اوکتل! حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام صفا صفا اعلان فرمائي چې زه د **اللّٰه** پاک په راکړے شوي طاقت پيدائشي ړاندو ته بينائي او د برګي مريضانو ته شفا ورکووم تر دې چې مړي هم راژوندي کووم. د **اللّٰه** پاک له طرفه انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته قِسما قِسم اختيارات ورکولے کيږي او په فيضانِ انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام سره اولياءِ عُظام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ته هم اِختيارات ورکولے کيږي، لهٰذا هغوئي هم شِفا ورکولے شي او ډير څه عطا کولے شي.

بهر حال! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ ته د اوليائے کرامو په باره کښې هميشه ښه عقيده ساتل پڪار ده، د هغوئي د بے ادبئ نه بچ کيدل، د هغوئي د مزارونو او تبرکاتو د بے ادبئ نه ځان ساتل ډير ضروري دي، ګڼې د ډيرو سختو نقصانونو سره مخ کيدے شو.

## د مزارِ پاک د بے ادبئ سزا

حضرت علامه مولانا غلام جيلاني ميرټهي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان فرمائي چې يو ځل يو بد مذهبه د حضرت سُلطانُ الْمَشائخ محبوبِ الٰهی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار شريف بے ادبي اوکړه او اوئې وئيل چې **هلته څه پراته دي د خاورو ډيرے دے.** د **اللّٰه** پاک قدرت چې د هغه د بدن په څه حصه کښې دومره سخت درد پيدا شو چې ټوله شپه نه پخپله اوده شو او نه يــې

محلّې والا خوب ته پرېښودل. د هر قِسمه دوايئ باوجود هم د هغه څه ګزاره اونشوه.

علامه غلام جيلاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په بله ورځ د هغه څوک خپل د هغه سره د ميلاويدو د پاره راغے. ما هغه ګس ته اووئيل چې دے په څه مرض کښې نه بلکې د خپلې ګُستاخئ د جُملې په وجه په سزا کښې اخته دے، دې بے ادبه ته اووايه چې د خپلې جملې نه توبه کړي هم دغه د ده دوائي ده. بهر حال هغه ته د توبې د پاره اووئيلے شول خو نه يې منله آخر د خپلې مور په مِنتونو په زارو هغه بے ادبه د خپلې ګستاخئ د جُملې نه توبه کړه نو هغه ته د درد نه آرام ميلاؤ شو. (1)

محفوظ سَدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان خلاصه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خواجه غريب نواز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د ذِکرِ خير اوريدو سعادت حاصل کړو. هغوئي د **اللّٰه** پاک او د هغه د حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره رښتونے محبت لرونکے عظيم الشان وَلِیُّ الله وو. **اللّٰه** پاک هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ته داسې شان عطا کړے وو چې لوئي لوئي بادشاهان او د خپلې زمانې نامور خلق به د هغوئي په بارګاه کښې د حاضرئ د پاره راتلل. ډيرو لويو لويو خلقو د هغوئي په نوم قصيدې ليکلې دي. **اللّٰه** پاک هغوئي ته داسې شان عطا کړے وو چې د هغه په عطا سره به هغوئي د حاجت مندو حاجتونه پوره کول. د هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ دا فيضان صرف د هغوئي د ژوند سره خاص نه وو بلکې په غوښتونکو [يعنې د هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ دربار مبارک ته

---

1...بشیر القاری، صفحہ:11، 12 خلاصۃً۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:315۔

حاضریدونکو] باندې د کرم باران اوس هم راوریږي.

تیرا دیار ہے دارُ السّلام یا خواجہ | تجلیاں ہیں نئی صبح وشام یا خواجہ
نہ فکر مئے نہ غمِ جام تیرے منگتوں کو | تیری نگاہ سے چلتا ہے کام یا خواجہ
تیرا گدا ہیں گنہگار متقی دونوں | برے بھلے پہ تیرا فیض عام ہے یا خواجہ (1)

## د مجلسِ مزارتِ اولیاء تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي په ټوله دنیا کښې د نیکۍ دعوت عام کولو، د سنتو د خوشبویۍ خپرولو، د عِلمِ دِین د شمعې روښانه کولو او د خلقو په زړونو کښې د **الله** پاک د اولیائے کرامو په محبت او عقیدت زیاتولو کښې مصروف دے. په ټوله دنیا کښې د دیني کارونو د مُنَظَّم کولو د پاره د 80 نه زیات شُعبه جات قائم دي، په دې کښې یوه **شُعبه مزاراتِ اولیاء** هم ده ❁ دا شُعبه د اولیائے کرامو رحمۃ اللہ علیہم په لاره تللو باندې د عمل کولو په ذریعه په مزارونو مبارکو باندې حاضریدونکو اسلامي وروڼو کښې د دیني کارونو کولو د پاره کوشش کوي ❁ دا شعبه د صاحبِ مزار د عُرس په موقع باندې د قرآنِ پاک د ختم، د ذِکر او نعت خوانۍ اجتماع کوي ❁ د مزارونو خوا سره موجودو جوماتونو ته د عاشقانِ رسول مَدَني قافلې راولي، د عُرس په ورځو کښې د مزار شریف په دالان کښې د سنتو مَدَني حلقې لګوي په کومو کښې چې د اوداسه، غسل، تیمم، نـمونځ او ایصالِ ثواب طریقه، مزارونو ته د حاضرۍ آداب او د هغې صحیح طریقه او د مدینے د سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم سُنت ښودلے کیږي ❁ عاشقانِ رسول ته د موقعې په مناسبت سره د ښو ښو نیتونو مثلاً جَمعې سره د نـمونځ ادا کولو، د دعوتِ اسلامي په هفته وارو د سنتو ډکو اجتماعاتو کښې د شرکت، د

---

1... معین الارواح، صفحہ:337-

درسِ فيضانِ سُنَّت ورکولو يا اوريدو، د صاحبِ مزار د ايصال ثواب د پاره لاس په لاس په مَدَني قافلو کښې د سفر او روزانه د خپلې جائزې اخستو په ذريعه د نيک اعمال د رسالې ډکولو ترغيب ورکوي. ❁ د **شُعبه مزاراتِ اوليا** تحت د عُرس په ورځو کښې د صاحبِ مزار په خدمت کښې د ډير ثواب تحفه هم وړاندې کوي ❁ د صاحبِ مزار بزرګ د سجاده نشين ❁ خُلَفَاؤ او د مزارونو د مُتَوِلّي صاحبانو سره وخت په وخت ملاقات کوي او هغوئي د دعوتِ اِسلامي د خدمتونو، د جامعاتُ المدينه او مدارسُ المدينه او په بهر ملکونو کښې د کيدونکو ديني کارونو وغيره نه د خبر ساتلو کوشش کوي.

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں
اے دعوتِ اسلامی تری دُھوم مچی ہو
الله دې کرم اوکړي په تا داسې په جهان کښې
اے دعوتِ اسلامي ته دې عام شي په هر ځائے

## د رجب د روژو فضائل

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مبارکه مياشت رَجَبُ الْمُرَجَّب جاري ده، د دې مبارکې مياشتې يو اهم ترين عبادت روژې نيول دي. ❁ حضرت عُروَه بن زُبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه پوښتنه اوکړه: آيا د الله پاک نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې روژې نيولې؟ اوئې فرمائيل: آو! (روژې به يې هم نيولې) او دې له به يې اهميت هم ورکولو. [(1)]

❁ د جنّتي صحابي حضرت اَنَس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکارِ نامدار، د دواړو جهانونو مالِک او مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې په ماهِ حرام کښې

1... کنز العمال، جزء:8، جلد:4، صفحہ:301، حدیث:24596۔

درې ورځې د زيارت، جُمعې او خيالي روژې اونيولې، د هغه د پاره به د دوو کالو د عبادت ثواب ليکلے کيږي. (1) ❀په يو بل **حديث پاک** کښې دي: په جنت کښې يو نهر دے چې هغې ته رجب وئيلے شي د هغې اوبه د شودو [پئيو] نه زياتې سپينې او د شاتو نه زياتې خوږې دي چا چې د رجب د يوې ورځې روژه اونيوله **الله** پاک به د هغه نهر نه [يعني د هغه نهر په اوبو] هغه موړ کړي. (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صراط الجنان ايپلي کيشن تعارُف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دين زده کولو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې ورکوي. د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صراط الـجنان قرآن اينډ تفسير)- په دې ايپلي کيشن کښې ❀ پوره قرآنِ کريم ❀ د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلسنت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلے شوې ترجمهٔ کنزُ الايمان ❀ [د مدني قاسم صاحب دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه] آسانه ترجمه، ترجمهٔ کنزُ العرفان او ❀ په آسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير **صراط الـجنان** شامل دے. ❀قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير په آډيو کښې هم اوريدے شئ ❀ هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل راجمع کړے شوي دي ❀ په مَدَني چينل باندې چليدونکي تفسير قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي

---

1... معجم اوسط، جلد:1، صفحه:485، حديث:1789۔

2... شعب الايمان، باب في الصيام، جلد:3، صفحه:368، حديث:3800۔

کیشن په ذریعه په آسانئ سره کتلے شئ ❁ نور دا چې قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر په واټس ایپ (**Whats App**)، فیس بُک (**Facebook**) وغیره باندې د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته یې هُم اورسوئ او د نیکئ د دعوت عام کولو ثواب اوګټئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په مزارونو باندې د حاضرئ مَدَني ګلونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې مزارونو ته د حاضرئ یو څو مَدَني ګلونه وړاندې کووم. شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه مزار شریف ته د حاضریدو طریقه بیانولو کښې فرمائي: ❁ که ممکن وي نو د کوز سر [یعني ښپو] اړخ نه ورځئ ❁ د صاحبِ مزار د مخ مبارک په لور مخ او د کعبې په لور شا کوئ او اودریږئ ❁ د مزار شریف نه کم او زیات خلور لاسونه یعني دوه ګزه لرې اوسئ ❁ که څوک بالکل نزدې ورغے یا ډیر لرې پاتې شو نو بیا هم هیڅ ګناه نشته ❁ چې تلاوت کوونکو او نورو عبادت کوونکو ته څه پریشاني اُونشي څکه په درمیانه آواز کښې داسې سلام عرض کړئ: اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَاسَیِّدِیْ وَرَحمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ یعني اے زما سرداره! په تاسو باندې دې سلام وي ❁ بیا 11 کَرَته قُلْ هُوَاللّٰه [یعني سورۃ اخلاص] شریف، اَوّل و آخر درې درې کرته دُرُودِ پاک اولولئ او ثواب یې ایصال کړئ [یعني صاحبِ مزار ته یې ثواب اوبخښئ]- د ایصالِ ثواب د پاره دا لوستل لازمي نه دي بلکې څه هم وئیلے شئ مثلاً د یو ځل دُرُود شریف لوستلو سره هم ایصالِ ثواب کیدے شي بلکې د نمونځونو، روژو، حج، عمرې، د نیکئ دعوت، د لارې نه څه ګټه وغیره لرې کول د پاره د دې چې مسلمانانو ته تکلیف اُونه رسي، د سُنتو اجتماع او په مَدَني مذاکره کښې شرکت

الغرض هر قِسمه نيک کار ايصالِ ثواب کيدے شي لهٰذا د داسې قِسمه نيک کارونو ثواب د صاحبِ مزار په بارګاه کښې نذرانه کوئ ❁ بيا په واپسئ کښې پشا ځئ د پاره د دې چې مزار شريف ته شا نشي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

آؤ مَدَنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ اللہ سر بَسَر
جو بھی شیدائی ہے مَدَنی قافلوں کا یاخدا! | دو جہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا! (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلی الله علیه واله وسلم.

---

1...مزارات پر حاضری کا طریقہ، صفحہ: 1، 2 بتغیر قلیل۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ: 635 ملتقطاً۔